پیل مرغ شهزاده

یو سلطنتي شهزاده یو وخت لېونی شو او فکر یې کاوه چې له هغه څخه پیل مرغ جوړ شوی دی. هغه ځان مجبور ګانې چې ترمېز لاندې لوڅ کېني، او د پیل مرغ په څېر په هډوکو او د ډوډۍ په میده ګیو کې خوله ووهي. سلطنتي ډاکټرانو د تل لپاره دا هیله له لاسه ورکړه چې هغه دې له دې لېونتوب څخه بېرته ورغېږي، او پاچا په ډېر لوی غم اخته شو.

دا وخت یو حکیم راغی او ویې ویل، «زه د ده د درملنې مسؤلیت پرغاړه اخلم».

حکیم خپلې جامې واېستلې او تر مېز لاندې لوڅ د شهزاده ترڅنګ کېناست، او د ډوډۍ په میده ګیو او هډوکو کې یې لاس وهل پیل کړل. شهزاده ترې وپوښتل«ته څوک یې؟». «ته دلته څه کوې؟» «او ته؟» حکیم ځواب ورکړ. «ته دلته څه کوې؟» شهزاده وویل«زه پیل مرغ یم»، «حکیم ځواب ورکړ، زه هم پیل مرغ یم»

هغوی د څه وخت لپاره په ګډه په دې ډول کېناستل، تر دې چې په خپلو کې سره ښه ملګري شول. یوه ورځ، حکیم د پاچا خدمتګارانو ته اشاره وکړه چې هغه ته کمیسونه وروړاچوي. هغه شهزاده ته وویل، «ته ولې فکر کوې چې یو پیل مرغ نشي کولی چې کمیس واغوندي؟ ته کولی شې چې کمیس واغوندې او بیا هم پیل مرغ واوسې» په دې سره هغوی دواړو کمیسونه واغوستل.

څه وخت وروسته، هغه بیا هغوی ته اشاره وکړه، او هغوی هغه ته پرتوګونه وروړاچول. د مخکې په څېر هغه وویل،«ته ولې فکر کوې چې که ته پرتوګ واغوندې ته به پیل مرغ ونه اوسې؟»

حکیم دې کار ته ترهغه دوام ورکړ چې هغوی دواړه په کالیو ښه پوره پټ شول. هغه بیا اشاره وکړه، او هغوی ته له مېز څخه منظم خواړه ورکول شول. حکیم بیا وویل، «ته ولې فکر کوې چې که ته ښه خواړه وخورې ته به پیل مرغ نه ګڼل کېږې؟ ته کولی شې هرهغه څه چې زړه دې یې غواړي وخورې او بیاهم پیل مرغ و اوسې» هغوی دواړو خواړه وخوړل.

په پای کې، حکیم وویل، «ته ولې فکر کوې چې یو پیل مرغ باید ترمېز لاندې کېني؟ پیل مرغ هم کولی شي چې پرمېز دپاسه کېني.»
حکیم ترهغه دې چلند ته دوام ورکړ چې شهزاده ښه پوره روغ شو.